مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مطیع الله روهیال

۲۰۲۱/۱۲/۱۲

# د شهید پتیال په آثارو کې انتقادي پانګه

د پښتو ادبیاتو په تاریخي سیر کې ستر خوشحال هغه څوک دئ چې په آثارو کې ئې د کره کتنې ځرکونه په لویه پیمانه لیدل کیږي، خوشحال خان خټک نه یوازې د توري د میدان غښتلی وو بلکې د ادب او فرهنګ د میدان نامي هم وو، هغه ادب د ټولنیز سمون له پاره کاراوه، د دې تر څنګ د ادبیاتو په واقعي معنی چې هنري اغېز ئې باید تر هر څه زیات وي آګاه وو او دغه وجه ده چې آثار ئې تر اوسه د پښتو ادب له پاره د شمزۍ حیثیت لري. د خوشحال په ټولو آثارو انتقادي تومنه ګډه ده، هغه یوازې پر خپلو هم عصرو او د هغوی پر آثارو نقد نه کوي بلکې تر خپل عصر مخکښې او د هغوی آثار هم تر کره کتنې لاندې راولي او د هغوی سره او کوټه سره بېلوي.

د خوشحال خان خټک انتقادات د لوی استاد پوهاند حبیبي په وینا په درو ساحو کې پام وړ دي:

- اجتماعي او ټولنیزه انتقادي برخه
- سیاسي انتقادونه
- ادبي کره کتنه

د خوشحال خان له پراخ علمیت او وسیع جهان بینۍ څخه جوتیږي چې دغه لوی انسان یوازې نورو ته د انتقاد ګوته نه نیوله، بلکې خپل ځان هم د انتقاد تر دایره نه باسي او خپلې سهوې په خپله نقدوي. د ځان نقد او خپلو کړو ته ګوته نیول زموږ په ادبیاتو کې له خوشحال خانه راپیلیږي. نه یوازې دغه امتیاز د ده په برخه دئ بلکې په واقعي معنی د کره کتنې اروا هم د خوشحال خان له آثارو څخه پښتو ادبیاتو ته ننوتلې ده.

د کره کتنې له پاره پراخ فکر، قوي استدلال، ذهنی صلاحیت، د تاریخي واقعاتو په اړه ژور لیدلوری، د اصلاحي سمون په موخه له تعصبه خلاصوالي او د اجتماعي موضوعاتو په اړه ټولنیز سمون په نظر کې نیول اولیتونه لري. هر هغه څوک چې له دغو ورتیاوو څخه برخمن وي کولای سي انتقاد وکړي او انتقاد ئې اصلاح راولي، که له دغو ټولو موضوعاتو برعکس افکار ئې آثارو او لیکنو ته لاره پیدا کړي، کره کتنه ئې کمزورې او له هغه جوهره بې برخې ده، د کوم له پاره چې ئې لیکوال د لیکلو کوښښ کړی وي.

زموږ د زماني غښتلی خو نیمه خوا لیکوال او شاعر شهید عبدالقدیم پتیال هم یو له هغو لیکوالو او شاعرانو څخه وو، چې په آثارو کې ئې انتقادي پانګې ځانګړی ځای درلود. د هغه د پوهې پراختیا، د استدلال قوت او د معلوماتو غوښنې ذخیرې هغه ته دا وړتیا ورکوله چې په ځان کې د کره کتنې او انتقاد روحیه ورروزي، هغه مرحوم په دې پوهېدی چې په اجتماعي مسائلو، ادبیاتو او سیاسي موضوعاتو کې کوم کوم ځایونه اصلاح ته اړتیا لري او د سمون له پاره ئې باید څه وسي. په خپلو آثارو، مقالو، ترجمو، شعرونو او منظومو کې ئې کره کتنې ته ځانګړی ځای ورکړی وو. هم ئې پر نورو نقد کاوه او هم ئې خپلې تېروتنې په ورین تندي منلې او اصلاح کولې.

په موضوعي لحاظ د ارواښاد پتیال په آثارو کې ادبي او علمي انتقادونه لوی ځای لري، ورپسې د تاریخي آثارو او کتابونو کره کتنې راځي او په وروستیو وختونو کې ئې د اخباري کالمونو په چوکاټ کې د خپلې ټولنې اجتماعي او ټولنیزې ناخوالې ترسیم کړې دي او د یوه دقیق او باریک بینه نقاد په توګه ئې هغو کړو ته ګوته نیولې ده چې باید د



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ټولنيزې اصلاح په موخه سمې سي. د وروستيو نقدونو ژبه ئې طنزي تومنه لري او په اصطلاح له ګوړي څخه ئې د مرچکو کار اخيستی دئ.

د مرحوم پتيال په آثارو کي انتقادي پانګه په لاندي ډول ځای سوې ده:

**لومړی:** په خپلو ځينو ليکنو کي ئې خپلو تېروتنو ته اشاره کړې او د هغوی د اصلاح هڅه ئې کړېده. دغسي سموني تاسي د هغه مرحوم په دوو آثارو (پردېس ښېنوا) او (نثلي ليکوال) کي ليدلای او کتلای سئ. دلته ئې زه د موضوع د اوږدوالي له اسيته له مثالونو څخه تېر سوی يم.
**دوهم:** شهيد پتيال د ځينو ځانګړو مقالو په وسيله پر ځينو تاريخي او ادبي آثارو باندي نقدونه کړي دي، چي لاندي مقالي ئې د يادوني وړ دي:

په ادبي برخه کي: وحشي تشبيهات، پر "شعرونه او نقدونه" نومي کتاب نقد، په پښتو کره کتنه کي نيمګړتياوي، د محمدنسيم نوري شاعرۍ ته يو ځغلند نظر، دومره تقليد، په پښتو کي نظم ته اړتيا ده که نثر ته؟، پښتو آثار د احتکار په دام کي، شاعر او شعرپوه، تشبيه، المعنی الشعر فی بطن الشاعر، شعرونه شعارونه، ماخذ دي هېر سو، په کيسه مي نثر ګډ سي، شعري بې منطقي، آزاد شعر، تذکره ليکنه او داسي نور ...

په تاريخي برخه کي: يوه لنډه يادونه، د اروابښاد قدرت الله حداد د يوه اثر کره کتنه، د سقاوي دورې په باب يوه لنډه يادونه، از عياری تا امارت او داسي نور ...

په اجتماعي او ټولنيزه برخه کي: نوی رباب په زاړه سُر کي، ځه ته وزير يې، ماما د اول خبره وکه، ذهني عياشي، موږ غريبان ئې ګډوډ وهو، ما ويل کميس دي سور دئ تا ويل د خولو شور دئ، نظر يې غواړم نظر تېز لري، دوپيازه د چرګو هم خورم او داسي نور ...

د حاضر مجلس اکثرو دوستانو شهيد پتيال پېژندی او د هغه د شخصيت له دروندتيا او سپېڅلتيا څخه خبر دي، هغه چي څونه په ظاهره ښکلی وو، تر هغه زيات په باطن کي پاک او سپېڅلی وو، د هغه انتقادي روحيه يوازي او يوازي د اصلاح او سمون له پاره پارېدلې او د قلم تر نوک راوتلې ده، هغه د خپل قام، خپلي ژبې، خپل ادب او خپل فرهنګ په اړه حساس وو، دغو موضوعاتو ته په تقدس قايل وو او هيڅکله ئې نه غوښتل چي نور دي د دغو موضوعاتو په اړه کمزوری تحليل او بې ځايه فکر ولري، د دغو افکارو د سمون او د هغوی د ردولو له پاره ئې له علمي جرئته کار اخيست او د خپلو نقدونو په ذريعه ئې د سمولو هڅه کړېده. د اروابښاد پتيال د نقد ژبه مهذبه او د موضوعاتو پر اصلي محور راڅرخېده، د هغه نقدونه د يوه واقعي عالم په توګه د افرادو پر ځای د هغوی مولوداتو ته متوجه ول، ځکه ئې اغېز هم زيات وو.

زموږ اوسني ادبي، علمي او فرهنګي جريانونه شهيد پتيال غوندي پاکو او سپېڅلو نقادانو ته اړتيا لري، تر څو د هغوی د سالمو نيوکو او کره کتنو په رڼا کي خپل مسير وټاکي او پر هغه لاره ولاړ سي چي واقعاً مکي ته تللې وي او له هغې لاري راوګرځول سي چي د مکي پر ځای د ترکستان خوا په خوله ورکوي.

د شهيد پتيال اروا دي خوښه وي

د هغه د علميت، پوهي او قلم سيوری دي زموږ پر ځوان ادبي کهول غوړېدلی وي!

امين

۱۰ لړم ۱۳۹٦ش


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ